## سرلیکنه ...

### دوحې کې دسولې په وړاندې خنډ او ځنډ د څه لپاره!؟

د دولت او طالبانو ترمنځ په قطر دوحه کې د خبرواترو لړۍ څلور میاشتې کیږي پیل شوي، چې دغې ناستې ته افغانان دهیلو په انتظار ناست ؤ. خو هغسې چې دوی تمه درلودل ونه شول او په هېواد کې جګړې لاپسې زور واخیست .

د قطر له ناستې ډېره موده وشوه، چې د دواړو مرکچي پلاوو لخوا خبرې اترې رواني دي، ولې تر اوسمهاله هغه څه چې د هېوادوالو آرمان وه، تردمګړۍ ورته رسیدنه نه دی شوې، چې د افغانانو هیلو ته لبیک وویل شي.

د ټولو هېوادوالو دا پوښتنې دي، چې دا څنګه خبري دي او پایله یې له ولس سره نه شریکه کیږي او تر هغه پورې چې دواړه په جګړو ښکیلې خواوې یوې نیتجې ته رسیږي، په هېواد کې به د دنګو ځوانانو جنازې ورځ تربلې مخ پر زیاتېدو او په هر کور کې به د ویرونو انګازې خورې وي .

کابو څلور میاشتې وشوې، چې د دوحې له ناستې یو ښه خبر دهېوادوالو غوږونو ته را ونه رسیدل، لکه څنګه چې دوی هره ورځ او هره ګړۍ ورته په تمه دي .

په هېواد کې کرغیړنې جګړې زموږ ډېری افغانان وځپل، خو دایې لاروښانه نه کړه، چې جګړه دڅه لپاره ده، د جګړې په اور کې څوک سوزي او څنګه دجګړې ماشین ودروي .

سره له دغو خبرو بیا هم افغانان خوښي څرګندوي وایي، چې دواړه مرکچي پلاوي په دې لټه کې دي، چې له هېواده جګړه ودروي اود ولس پر ټپونو دملهم پټۍ ولګوي .خو دا هغه خبري دي، چې موږ تل همداسې خپل زړونو ته تسکین ورکړې او د عمل په ډګر کې بیا هیڅ څه نه دي شوي .

د دوحې دناستې لومړنۍ پړاو خبروکې د اختلافونو، دجګړو لاملونه او د هېواد په دننه کې د باندنیو هېوادونو مداخلې په ګوته نه کړل شوې، چې افغان ولس خپلمنځي اختلاف پرته له جګړو حل او په هېوادوالو د تپل شوي جګړې باندې پرده پورته کړې وای، چې د افغانستان د خاورې دښمن معلوم شوي وای، بیا دخبرو ژور اصل پسې تللي وای، چې هغه په هېواد کې د تلپاتې سولې راتلو خبره ده.

بیاهم دواړه لوري په مقدماتي خبرو لا نه دي سلا شوي، چې په کوموا ړینو موضوعګانو باندې خبرې پیل کړي او د پیل خبرې او اجنډاوې ورنه ورکې دي .

د دوحې ناستې د لومړي پړاو خبروکومه پایله نه درلوده، د دولت مرکچي پلاوي مرکز ته راورسیدل، خو دغو پلاوو ولس سره د سولې په پرمختګ کې کوم راپور شریک نه کړل او نه هم دغومذاکراتي پلاووکوم مطبوعاتي کنفرانس له رسنیو سره ونه نیول، چې دوی هلته د ولس او خاورې په وړاندې کوم مسؤلیت ترسره کړې دی .

د هېواد په دننه کې بېلابېلې ګنګوسې رواني دي، چې وسلوال او یا د دولت پلاوي دسولې خبرو ته نه حاضریږي، یا داچې د دولت وسلوال مخالفین د لنډمهالې حکومت غوښتنه کوي، نو کېدای شي،چې د دوحې په ناستې کې دا خبرې لاهم ښکته او پورته شوې نه وي، ولې دخلکو ذهنونه به بهرنۍ استخباراتي کړۍ مغشوشوي او یا به دسولې په پروسې کې خنډونه رامنځته کوي .

په دوحه کې دویم پلا خبرې اترې څه باندې یوه میاشت شوه، چې پیل شوي دي، خو بیا ځلې هم د دغو ناستې په پرمختګ کې تازه او هیله ښوونکي پېغام نه دی خپور شوې، چې دافغانانو هیلې راوغوړوي .

دا ځل ولس د دوحې په مرکچي پلاوو باندې غږ نه کوي؛ بلکې ځولۍ ورته غوړوي وایي، چې که په رښتینې توګه د ولس له درده، د افغانانو د اوښکو پاکولو لپاره، دافغان بچیانو د وژنې لړۍ د روږ او په هېواد کې د سور اور د مړ کېدو په خاطر جرګه مو کړې، نو دیو بل خبرې په خلاص تندي ومنئ او روانه جګړې ته دپای ټکی کېږدئ . ځکه ورځ په ورځ دافغانانو هیلې مړاوې کیږي او هغه هیلې چې لرلې، د ورځو په تېریدو پر ناهیلۍ بدلې کیږي او د بې باورۍ فضاء لاپسې ډېریږي .

ټول هېوادوال لازم ګڼي، چې دسولې په وړاندې پراته خنډونه او ځنډ لرې کړل شي، د یو بل خبرې دې په ورین تندي ومني، چې که هر لور زیاتې غوښتنې لري، دا هغه څه دي، چې د دواړو په ګټه دي،چې دسوله ئیز افغانستان په شتون کې دواړه ګټمن کېدلای شي، ځکه چې په سوله ییزه فضاء کې دواړه دټوپک پر ځای قلم را اخلي او د ودانولو سیالۍ ترسره کوي .

خو اصلي خبره داده، چې دوی د خبرو اجنډا مخ ته نشي بېولای، ځکه مرکچي پلاوي ترمنځ د باورمندۍ فضاء زمینه شتون نه لري، که همدا مرکچي پلاوي په خپلو کې د باور اصل ته کتلي وای، نو ډېر ژر به د هېواد په خیر او فلاح پرېکړو ته رسیدلي وای .

هېوادوال انګېري وایي، چې د دولت وسلوال مخالف لوري یې د سولې خبرو په لړ کې سم ګاونډ هېوادونو ته سفرونه درلودلي دي، چې دا هم د بې باورۍ فضاء رامنځته کړې ده، که دوی په دې اساس وخت کې د ګاونډ هېوادونو له سلا او مشورې لاس وانه خلي، نو دسولې راتلو په وړاندې به ستر خنډ او ځنډ رامنځته شي .

د خلکو په باور؛ د دولت وسلوال مخالفین ګاونډ هېوادونو( پاکستان ، ایران او مسکو) ته ورتګ هېوادوال له اندېښنو سره مخ کړیدي، چې یادو هېوادونو تل دافغانستان دسولې په پروسه کې خنډ رامنځته کړې دی، چې خدای مه کړه، داځلې زموږ په ملي ناستې ملنډې ونه وهي.

عام ولس وایي؛که طالبان په رښتینې توګه خپل ولس او هېواد ته ژمن دي، نو ددغو سفرونو لړۍ دې ودروي او د سولې راتلو خبرو باندې دې بیړه وکړي،چې له هېواده د وژنو او ویجاړیو لړۍ پای ته ورسیږي .

په پای کې د ټولو افغانانو دا لویه غوښتنه ده،چې د سولې په پروسه کې دې چټکتیا ته لومړیتوب ورکړل شي او ددغې پروسې په لاره کې چې کوم خنډ شتون لري، هغه ته دې بې له ځنډه دحل لارې ولټوي او په سړه سینه دې پرته د نورو هېوادونو له مشورې خپلې ولاړې ستونزې حل او پر افغان ولس دې دسولې زیرې ولوروي .

اداره

## له تېرو تجربه؛ راتلونکي ته پام!

جګړه په ټولیزه توګه د یوه هېواد ټولې شتمنۍ له مینځه وړي، په جګړو ښکېلې خواوې دواړه له زور نه کار اخلي، څو خپل هدف ته ځان ورسوي، خو هدف ته رسیدل، دومره آسانه خبره نه ده، بلکې دواړه لوري له مالي او ځاني زیانونو سره مخ کیږي.

دلته که په جګړې ښکېلې خواوې زیانمنې کیږي، ولس ته هم زیان اوړي، لکه څنګه چې افغانستان څه د پاسه څلویښت کلنې جګړې، داقتصادي، فرهنګي، سیاسي او په نورو برخو کې وځپل، خو لا هم د جګړې پایله روښانه نه شوه، چې کوم لوري خپل مقصد ته ځان ورساوه، بلکې دغې څلویښت کلنې جګړې ډېري نظامونه راوپرځول او هېواد یې په کنډوالو بدل کړل.

اصلي خبره دلته ده، چې موږ ولې له تېرو وختونو تجربه نه اخلو !؟ولې خپل ماغزه په کار نه اچو !؟که په تېرو نظامونه یو ځغلنده نظر واچو، چې دوی د هېواد لپاره څه پلانونه او طرحې درلودې، خو بیا هم تر شا یې بهرنۍ مغرضې کړۍ موجودې وې، چې دهمدغو کړیو په اشاره څه اهداف دلته پلي کېدل،دولت به د ولس له مخالفت سره مخ کېدل، نظام به خلکو ته غلط تعبیریدل او حتی کفري ټاپې به پرې لګول کیدې، دا څهٔ؟ په پښتو کې یو معقوله ده، (چې هم ځیرل کوي هم ګنډل)نو بهرنیو هېوادونو دنظام په جوړولو کې به یې مرستې کولې، د وخت نظامونه به یې په پښو درول، خو په دننه هېواد کې به یې عقیدوي افغانان د نظام پر وړاندې هڅول، چې حکومت له ماتې سره مخ شي او ګټه یې همدغو هېوادونو ته پاتې شي.

نو پایله یې دا شوه، چې د افغانانو په منځ کې دکلونو کلونو دښمنۍ لاتر اوسه پاتې دي او اصلي طراحان یې همدغه بیروني مغرضې کړۍ دي، چې اوس هم دلته د سولې راتلو مخالفت څرګندوي او نه غواړي په افغانستان کې دې دایمي سوله راشي.

که د هېواد تاریخونه ولولو، ټولو ته جوتیږي، چې زورواکي هېڅکله هم د قدرت پاتې کیدو ته بقا نه ده ورکړې، بلکې را چپه شوي او نومونه یې هم په تورو لیستونو کې راغلي، چې راتلونکي نسل به هم ورته یو ډول د حقارت په سترګه ګوري.

اصلي خبره داده،چې نظام پسې ولس ودریږي، ولس یې ملاتړې وي، نو داسې نظام به تل مضبوط او له بهرنیو دسیسو به په امن کې وي او داسې هېواد به واوسي، چې نورې جګړې به پکې نه وي، د ښېرازۍ او پرمختګ په لوري به روان وي.

راځئ هېوادوالو ! نور د یو بل سره اوږه په اوږه ودرېږو تر څو دښمن ونه توانیږي، چې زموږ له بې اتفاقیو ناوړه ګټه پورته کړي، هر افغان په ځانګړي ډول ځوانان باید هڅه وکړي، تر څو د عامه پوهاوي له لارې هغه ځوانان چې د نورو په اشارو هېواد کې جنګیږي را وګرځول شي، خپلو هېوادنیو مسؤلیتونو ته یې ځیر کړي، ځکه دا په هر افغان فرض ده، چې په هېواد کې سولې او آبادۍ ته کار وکړي.

لیکنه : ستانکزی

## آب سرچشمهٔ زندگی

آب مظهر پاکیزگی، پاک کننده آلودگی ها و نوید بخش سلامتي انسان و محیط زیست است، زندگی انسان ها، حیوانات و تمام زنده جانها وابسته به آب میباشد و زنده ماندن نسل ها و غذای که ازآن استفاده میگردد بدون عرضهٔ آب ناممکن است.

این نعمت بزرگ و بخشش خداوند مهربان است که ازبالا به شکل باران و برف میریزد و در زمین به شکل چشمه ها و دریاها جریان دارد، دین مبین اسلام بخاطر استفادهٔ درست، سالم و مؤثر آن هدایات مهم و ارزنده را برای تحفظ و پاک نگهداری آب رهنمایی فرموده و تأکید نموده است تا مطابق به آن عمل نمائیم.

در منظومه شمسی زمین سیاره بی همتاست و یکی از دلایل اصلی این موضوع، وجود آب در زمین است، آب اساس زندگی بوده و سرچشمه حیات از این ماده حیاتی آغاز شده است.

این زنجیر طبیعی عرضهٔ آب ازهمان آوان اولی آن آغاز گردیده است و تاوقتیکه توسط انسانها تخریب نگردد وازآن به شکل منصفانه استفاده شود ادامه دارد .

با گذشت زمان، با افزایش بیش از حد در نفوس انسانی، آب را نیز به اندازهٔ کافی و سرسام آور به مصرف رساندند ، سیستم های ناقص و تخریب کنندهٔ آبیاری و قطع بیرحمانهٔ درختان منتج به کمبود آبهای زیرزمینی گردید و درعین زمان آبهای موجوده سطحی نیز ملوث شدند و یگانه منبع مهم تغذیه و بلند رفتن سطح آب های زیرزمینی، تامین آب آشامیدنی و آبیاری کشتزارها و باغ ها، برف به شمار می رود.

برف بزرگ ترین پشتوانه بر زندگی بشر در زمینه آبیاری کشتزارها است، برف به تدریج آب شده و به سرعت در زمین فرو می رود ، اهمیت بیشتر نسبت به باران دارد ، برف منبع طبیعی مهم است که آب را در اعماق زمین ذخیره می کند.

کم باری بارش برف، خشک بودن فصل زمستان موجب می گردد تا باران موسمی کمتر جذب زمین شود. این مساله باعث سیلاب و فرسایش خاک زمین می گردد و همچنین کم بارش برف در فصل زمستان به شدت خطر خشکسالی دارد. هرگاه زمستان کم بارش برف باشد ، زنگ خطر کم آبی است و برای مزارع و چرگاه ها و فضای سبز محیط زیستی مضر است و مسله کمبود آب، گاه فاجعه های زیست محیطی را در برمی گیرد.

در حقیقت اکثر ولایت افغانستان از حوزه آبریز خوب برخوردار است و این امکان برای ما می دهد که با کشیدن نهر سنتی و جوی ها عنعنوی آبرسانی و حفر کانال های خاکی یا ساخت کانال های پخته آبرسانی آب به دسترس زراعت کاران و باغداران کشور ما قرارداد و با این شهامت می توانیم قدم اول در بهبود محیط زیست، رشد انکشاف زراعت و باغداری حرکت به سوی مصونیت غذایی و خودکفایی کشور ما در تولیدات کشاورزی و انرژی برق مشکل اکثریت شهروندان افغانستان را حل خواهم کرد.

در سطح ملی، به منظور مدیریت آب، کنترول سیلابها، توزیع مناسب آب و ذخیره سازی آب ساختن بندهای آب یک اقدام ضروری است و در سطح فردی برای صرفه جویی و استفاده درست از آب میباشد.

فرستنده مطلب : صمیم

## برقراری عدالت، مساوات و آرامش در زندگی بشریت از دیدگاه اسلام

درهمه آیه های قرآن مسلمانان رهنمایی شده اند که بر عدالت و انصاف استوار شوند وبه حق گواهی دهند وموانعی را که سبب جلوگیری از برقراری عدالت وگواهی به حق می شود، به کلی از میان برداشت . در آیه 8 سوره مایده نیز راجع به همین موضوع، مطالبی بیان شده که حتی الفاظ این آیه با آیه ای که پیشترذکرشد، مشترک اند.

از آیه 25 سوره حدید چنین معلوم میشود که هدف از ارسال حضرت آدم (ع) مقام خلیفه الله بودن در زمین است وبعد از او پیامبران. که بعد از دیگری به حیث خلیفه در زمین آمدند وبه همراه آنان بسیار کتب وصحایف نازل گردیده تا ضمن ایجاد عدالت ومساوات امنیت و آرامش به نحو مطلوبی در زندگی بشری برقرار گردد وهر انسانی موظف شد که در دایره اختیارات خویش در رعایت آن بکوشد و در برقراری آن اهتمام ورزد و چنانچه مردمان سرکشی که با وعظ ونصیحت، تبلیغ وتعلیم به راه نه آیند وبرنقض آن اسرار ورزند، به وسیله سزا و تعزیرات حکومتی وقانون اجبار گردند تا که برعدل وانصاف استوار شوند.

در آیه 25 سوره حدید این حقیقت چنین توضیح داده شده است. ترجمه: ما رسولان خود را باهمراه بانشانیها فرستادیم وکتاب و ترازو بر آنان نازل گردانیدیم تاکه مردم برعدل و انصاف پابند شود وما آهن را که در آن برای مردم هم بیم است وهم منفعت نازل کردیم.

از این آیه معلوم شد که تمام نظام بعثت انبیا وتنزیل کتب آسمانی برای برقراری انصاف در نظر گرفته شده است وفرستادن پیامبران ونازل کردن کتابهای آسمانی برای تحقق بخشیدن به همین هدف مقدس است وبلاخره برای برقراری عدل وداد به فرود آوردن وبخشیدن نعمت آهن اشاره کرد که این خود اشاره به این است که برای برقراری عدالت، تنها وعظ و تبلیغ کافی نیست؛ بلکه به راه آوردن افراد شرورانصاف از آلات و ابزار آهنی که همان شمشیر، زنجیر و اسلحه اند، کار بگیرند.

گروهای مسلح ودیگر گروه های افراطی یا ازحقیقت دین مبین اسلام اگاهی ندارند ویا هم اگر آگاهی دارند برضد اوامر، فرمان وهدایت الله(ج) وبرضد احادیث پیامبران بزرگ اسلام عمل میکنند. چراکه الله متعال درقران عظیم الشان فرمان داده، که خشونت ونراع نکنید. اما بعضی گروها تبهکار با گذشت زمان دست به خشونت، ظلم، قتل های هدفمند، تعبیه ماین های چسپکی، تخریب اماکن عام المنفعه، غارت گری، قطاع الطریقی و صدها عمل ناروا را همه روزه انجام میدهند.

زمانیکه قانون الهی تطبیق گرد، گرگ وگوسفند از یک چشمه آب خواهند نوشید و هر فردی در تاریکی های شب در اتاق در بسته به قانون احترام قایل خواهند شد.

فرستنده مطلب : ابوبکر (صافی)

## لوګري شاعرانو او ځوانانو دشعر په ژبه دسولې ...

په یادې مشاعرې کې د شاعرانو دشعري تحلیل له مخې د دوی غوښتنې داوې، چې اوسني وضعیت ته په کتو دسولې غږ له ولس نه پورته کیږي او جنګ ځپلي ولس په دې هیله دي، چې حکومت او طالبان دې ددغو بېوزله ولس غږ واوري او جګړه دې ودروي.

همداراز شاعرانو انګیرل، چې جګړې زموږ په هېواد کې ورځ تربلې ځوانان او نور وګړي د اور په لمبو کې سوزوي، که ولس غږ پورته نه کړي، نو دغه وضعیت به لا پسې روان او افغانستان به دیو کړکیچن بحران په لوري لاړشي.

دوی د دغه ناڅرګند وضعیت په مهار کې داوربند ، سولې او امنیت عنوانونه یاد کړل، چې دواړه په جګړو ښکېلې خواوې دې ورته رسیدنه وکړي.

د مشاعرې په پای کې پنځه تنه شاعران له ارزونې وروسته د غوره شعر ویونکو په توګه وپیژندل شول، چې لومړۍ او تر پنځم مقام یې د غوره شاعر مقامونه خپل او مادي ډالۍ یې ترلاسه کړې .

## درجریان یکسال گذشته بیش ازسی وپنج رویداد ترافیکی ...

اما ازسوی دیگر ولی یکتن ازراننده گان به آژانس باختر گفت: لااقل هفته یک حادثه ترافیکی دراین شاهراه رخ میدهد که اکثراوقات تلفات سنگین جانی ومالی را درقبال داشته است، وی علاوه کرد باوجود آنکه امروز دنیا چنان متحول شده که داشتن جواز رانندگی یکی از لازمه های زندگی است به خصوص برای افرادی که هر روز مجبور هستند فاصله بسیار زیادی را از محل خانه تا کار و بر عکس را با وسایط طی کنند ، با این وجود بعضی از افراد با وجود داشتن شرایط لازم برای گرفتن جواز رانندگی ولایسنس سهل انگاری می کنند.

داکتراحمد الله یک تن ازداکتران موظف در شفاخانه نائب امین الله خان می گوید که روزانه یک الی دو بارمتضررین رویداد های ترافیکی به این شفاخانه غرض درمان مراجعه میکنند ، وی افزود دراکثرموارد سرعت زیاد راننده گان وبی احتیاطی سبب وقوع حادثات ترافیکی میگردد .

## د لوګر د هټیو، عمومي مارکېټونو او د یو شمیر نورو ځایونو لیکدړې او لیکل...

د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل د غونډې برخه والو ته د لیکدړو او جملو د سمون طرزالعمل وړاندې کړ او زیاته یې کړه، په ښار کې یې هغه لیک دړې او جملې په نښه کړي، چې له ګرامري اړخه غلطي پکې ولیدل شي او د غه راز د نورو ژبو کلیمې په کې کارول شوې وي.

د تسل په وینا د جملو سمونې لپاره یې د پښتو او دري ژبو متخصیصنو سره سلا مشورې کړي او غلطې جملې وربان‌دې اصلاح کړي او کمیټې ته یې وړاندې کړې.

د یادونې وړ دی، چې وروسته دنومړې کمیټې غړې ښار کې وګرځیدل او هغو هټیو او مارکېټونو ته ورغلل چې لیکدړې او لیکل شوې جملې یې سمې نه وې، د سموونې په موخه یې د کمیټې پریکړې پرې وویشلې.

## اطلاعیه

آنعده از بریدملان وسربازان اردوی ملی که قبلاً بنا بر عوامل مختلف از قطعات و جزوتام های قبلی خویش غیرحاضر ویا منفک گردیده است ومیخواهد دوباره مصدر خدمت دریکی از جزوتام های قول اردوی (203) تندر گردد. رسانیده میشود که جهت ثبت و اعزام دوباره شان در مربوطات جزوتام های قومندانی محترم قول اردوی 203 تندر به قومندانی جلب وجذب ولایت لوگر مراجعه نماید. زمان آغاز این پروسه از 1399/12/1 الی 1399/12/29 میباشد .

جهت معلومات بیشتر به شماره های ذیل به تماس گردد.

0780587418 - 0770700440 - 0700975110